# د عربۍ ژبې په پښتو ژبې اثرات (اغیز)

## Impacts Of Arabic Language On Pashto Language

ډاکټرحبيب نواز*
فرخنده جبين•

**Abstract:**

Arabic is an oldest language of the world it belongs to Sami Group. Approximately 422 millions people of the world speak Arabic as a native language. Arabic are the official language of Arab countries and a common language of the Islamic countries. It is the language of religion, science, politics, business and economics.A lot of books have been written in this language and it is biggest evidence that this language is reasonable for the promotion of the common sense of the human being. Arabic is a vast language and it plays an important role in the unity of the Muslim countries.Quran and hadith are available in this language in original shape. Which is valuable for all the Muslims of the world .and that is the main reason that Arabic language and literature have great impacts on Pashto language and literature? For Example

1: Alphabet: 30 alphabets of Arabic language are included in Pashto alphabets.

2: Grammar: Grammar of the two languages has great similarity. Mostly rules and regulations of the Grammar are same in both languages.

3: spoken or routine languages: A lot of Arabic words are used in daily speaking of Pashto language. For example Istimal, saber, Ihsan, shukur, Shefa, Maraz etc.

4: Culture: Arab and Pashtoon are Muslim and both of the nations have a great similarity in their culture, therefore most of the cultural words are same for example Tuagham,Haram,Halal,Riziq,izat,Ihtiram,walima,Haq Mehr etc

5: Literature: style and thoughts in the field of literature of the both languages are same to a large extant.

**keywords:**Pashto Language, Literature, Quran, Hadith

عربي ژبه يوه پراخه ژبه ده چې نږدې د پنځه ويشتو هېوادونو د خلقو مورنۍ ژبه ده او دا داسلامي هېوادونو ژبه ده.نو ځکه د ټولو اسلامي هېوادونو دويمه يا دريمه مشترکه ژبه ده.هر مسلمان د عربۍ نه څه نه واقف دې هم دغه وجه ده چې د عربۍ ژبې په پښتو ژبه ژور آغېز دې او په دې سبب يې پښتو ژبه احسان منده ده.

* Head Department of Pakistani languages and Culture, NUML Islamabad.
• Lecturer, Department of Pakistani languages and Culture, NUML Islamabad

**د عربی ژبې پېژنګلو**:عربي د دوه سوه شپېته مېليونه خلقو ژبه ده.په مينځني ختيز کښې د ټولو نه زياته اهمه ژبه ده.د عربو هېوادونو سرکاري ژبه ده او د ټولو مسلمانانو(مشترکه) مذهبي ژبه ده.

**د عربی ژبې تاريخ**:

"عربي د سامي ژبو نه تعلق لري , دا يو اوږد تاريخ لري , د دې د اصل په حقله مقدمينو ژبغاړو څو نظريې وړاندې کړې دي ځيني وائي چې اول کس يعرب يا اعرب وو چې په عربی ژبه يې خبرې وکړې نو ځکه د دې ژبې نامه عربي کېښودلې شوه". (1)

ځيني وائي چې عربي په جنت کښې د آدم ژبه وه.

"د حضرت عبدالله بن عباس (رض) نه روايت دې چې جنت کښې د آدم ژبه عربي وه خو چې کله د هغه شجر ممنوعه وخوړله نو دا ژبه ترې سلب کړې شوه". (2)

"د عربی ژبې مرتب او واضح تاريخ د جاهلييت دور د شپږمي عيسوي پېړی نه پېل کېږي ".(3)

اول خو عرب ناپوهه وو ,د تجارت ,ا مارت او دين سره يې هېڅ تعلق نه ساتلو , نو په دا وجه د دوي په لهجو کښې ډېر فرق او اختلاف (کمزوری ) وو خو په ورو ورو دوي کښې د تجارت او مل ملاپ بېداري پېدا شوه.د جاهليت په دور کښې يې دري نامتو بازارونو عکاظ, مجنة, او ذولمجاز ته تلل پېل کړل.هتله به بې تجارت کولو او د شاعرانو ترمېنځه به شعري مقابلې کېدلې هغه بيې اورېدلې ,بل طرف ته هم په دغه شپږمه عيسوي پېړی کښې مکې معظمې د عربی ژبې په وحدت کښې او د عربو په بېداری کښې مهم کردار ولوبولو.مکه د امن ځائ وو.د هر اړخ نه بالحصوص د هندوستان او يمن نه به تجارتي قافلې راتلې او تجارت بې يې کولو نو د دې سره د دوي په علم کښې پراختيا , په فهم کښې قوت او مال کښې کثرت پېدا شو.

"قرېش يو خوا د مکې سرداران وو , بل خوا د عکاظ د بازار او تجارت مشران وو او بله دا چې دوي به په ژمي اوړي مختلفو سيمو ته سفرونه کول هلته به يې د نورو ژبو او لهجو خلقو سره اختلاط کولو.دغه رنګه د دوئ د ژبې په الفاظ کښې خوږوالې او په اسلوبو کښې بلاغت راغې.بيا شاعرانو هم اثار پرې وليکل تر دې پورې چې قرآن پاك په دا ژبه کښې نازل شو".(4)

"اسلام په عربی ژبې دروند اثر وکړو .د دې مقام يې اوچت کړو او بيا چې مسلمانان په کومو هېوادونو حکومت کولو د هغو په (نورو) ژبو يې ډېر اثرات وغورځول.په دې کښې پښتو ژبه هم شامله ده. او دغه رنګه عربي ژبه د عالم اسلام يوه سياسي, علمي او ادبي ژبه جوړه شوې ده".(5)

**د عربۍ ژبې اهمیت:**عربي ژبه د مذهب , بین العلمي سیاست, اقتصاد , ادب او مسلمانانو د وروروليۍ او اتحاد په لحاظ سره ډېر اهمیت لري.د مذهب په لحاظ سره دومره اهمه ژبه ده چې الله تعالىٰ د خپل دین (قرآن, احادیث او د سننت نبويؐ د تشهیر دپاره خوښه کړه. الله تعالىٰ په قرآن پاك کښې فرمائي:

" انا انزلنه قرآناً عربیا لعلکم تعقلون".(6)

**ژباړه**:بې شکه مونږ قرآن په عربۍ ژبه کښې نازل کړو. د دې دپاره چې تاسو پوهه شۍ.

بل ځائ الله تعالىٰ فرمائي:

"انا جعلنا قرآناً عربیا لعلکم تعقلون"-(7)

**ژباړه:** بې شکه مونږ قرآن پاك په عربۍ کښې نازل کړې دې دپاره چې تاسو پرې پوهه شۍ.

بل ځائ فرمائي:

"و کذالک اوحینا الیک قرآناً عربیاً-(8)

**ژباړه**: او دغه رنګه مونږ تاسو له په عربۍ ژبه کښې (وحي) نازل کړو .

عربۍ ژبه کښې یو اسلامي کلتور دې چې نه یوازې مسلمان بلکې غېر مسلم هم ترې استفاده کولې شي.بله دا چې عربي ژبه د فلسفې علوم او فنون ادب نه ډکه ژبه ده.دا د اسلامي هېوادونو په مېنځ کښې د ربط یوه مهمه ذریعه ده. دټولو عربو هېوادوونو سرکاري ژبه ده او دغه رنګه د ملګرو ملتونو (اقوام متحده)په رسمي ژبو کښې هم شامله ده. دغه وجه ده چې دا د نړۍ قامونو ترمېنځه تعلق پېدا کوي.

**د پښتو ژبې پېژندګلو**:

"د پښتو ژبې شمېره د ختیز په لویو ژبو کښې کېږي".(9)

"دا یوه لرغونې تاریخي ژبه ده .دا د وېدي عصر مشهورې قبیلې (پښت یا پکهت) ته منسوبېږي.د پکهت قبیله د آریاني لس قبیلو له ډلې نه ده چې د رېګ وېد په کتاب کښې یې څو ځایه نوم یاد شوې دې.د "پښت" قبیله د وخت په تېرېدو سره د "پښتون" په نامه اوښته او تر اوسه پورې په هماغه پخواني نوم ژوندۍ او موجوده ده.پښتون ملت له لرغونو زمانو څخه د آسیاء په زړه یا په بله وېنا د مرکزي آسیا په سیمه کښې پروت دې. په اوس وخت کښې نزدې شل مېلونه نه زیات وګړي په پښتو ژبه خبرې کوي. خو د هغوې زیات شمېر د اسلامي فتوحاتو په وخت کښې او تر هغې د مخه له دغې خاورې څخه د هند لویې خاورې ته ورغلی او هلته مېشته شوي دي". (10)

**د پښتو ژبې اهمیت:**پښتو ژبه نن سبا په نړۍ کښې ډېر اهمیت لري.دا د ټولو پښتنو مورنۍ ژبه ده.دا په خېبرپښتونخوا , بلوچستان او افغانستان کښې د اووګړونو خلقو ژبه ده. نو په دا لحاظ سره پښتو لاندنې اهمیتونه لري:

1 **د مختلفو علمونو نه ډکه ژبه**:

پښتو ژبه یوه لویه ژبه ده چې یو قدیم تاریخ لري دې کښې یوه لویه علمي خزانه محفوظ ده.د الف نه تر د فلسفې او د فلسفې نه تر جدید سائنسي علمونه باندې محیطه (خپره) ده دې کښې اسلامي علوم لکه اسلامي تاریخ , قرآن , حدیث ,فقه او اسلامي کلتور موجود دې.

پښتو ژبه یو پراخ ادب لري چې پکښې د نثر د جوړښت هر ډول او قاعده لري.په هر موضوع ډېر لیکل لري.د دې نه علاوه په شاعری کښې د نورو ترقیافته ادبو په شان هر صنف لري.د پښتو ژبې شاعران د نورو ژبو د لویو لویو شاعرانو سره په هر لحاظ برابر لري.

2 **افرادي قوت**:

پښتو ژبه د هغه خلقو ژبه ده چې یو لوئې افرادي قوت لري پښتانه چې د کروړونو شمېره لري دا یو خواري کښ قام دې.د هر کار تر سره کولو استطاعت لري.

3 **محل وقوع او سیمه**:

د محل وقوع په لحاظ سره د پښتانو سیمه او منطقه ډېر اهمیت لري. دا د سوئیلي آسیاء هغه سیمه ده چې د تجارت په لحاظ سره ډېر مهمه ده.

**د عربۍ ژبې په پښتو ژبې اغیر**:

د عربي ژبه د ټولو مسلمانانو مشترکه مذهبي ژبه ده بله دا چې پښتانه د عربو سره ډېر نزدې پاتې شوي دي.هم دا وجه ده چې د عربۍ په پښتو ډېر آغېز دي.د جوړښت په لحاظ سره د پښتو او عربۍ رسم الخط او په خاص توګه حروف تهجي (کاروونکې توکې توري) کښې ډېر یووالې دې. پښتو ژبې د عربۍ ژبې حرفونه خپل کړي دي.چې لاندې یې مختصر ذکر کوؤ.

د عربۍ او پښتو حروف (توري , توکې)

| د عربۍ توري | د پښتو توري |
|---|---|
| ا | ا |
| ب | ب |
| ت | پ |
| ث | ت |
| ج | ټ |
| ح | ث |
| خ | ج |
| د | چ |

| | |
|---|---|
| ذ | ځ |
| ر | ث |
| ز | ح |
| س | خ |
| ش | د |
| ص | ذ |
| ض | ډ |
| ط | ر |
| ظ | ړ |
| ع | ژ |
| غ | ږ |
| ف | س |
| ق | ش |
| ك | ښ |
| ل | ص |
| م | ض |
| نِ | ط |
| و | ظ |
| ه/ھ | ع |
| ء | غ |
| ی | ف |
| ې(11) | ق |
| | ك |
| | ګ |
| | ل |
| | م |
| | ن |
| | ڼ |
| | و |
| | ه/ھ |
| | ې |
| | ي |
| | ۍ |
| | ئ |
| | ې ے(12) |

**د عربۍ او پښتو مشترک حروف (توري ,توکي):**

| | |
|---|---|
| ا | ط |
| ب | ظ |

| | |
|---|---|
| ت | ع |
| ث | غ |
| ج | ف |
| ح | ق |
| خ | ك |
| د | ل |
| ذ | م |
| ر | ٖن |
| ز | و |
| س | ہ/ھ |
| ش | ء |
| ص | ی |
| ض | ې |

د قواعدو په لحاظ سره د عربۍ د قواعدو ډېر نومونه ,الفاظ او قوانین پښتو ژبه ته راغلي دي۔ لکه **فعل** ,مفعول, اسم , حرف, مضاف , مضاف الیه, ضمیر, مذکر او مونث یا تذکیر او تانیث, مبتدا او خبر۔ داسې نور الفاظ او دهغې مفاهیم هم پښتو ژبې د عربۍ نه راهېستي دي۔

**(ب)**

د روز مره ژوند د الفاظ په لحاظ سره:

د عربۍ ژبې د پښتنو په روزمره په ژبه ډېر آغېر غورځولې دي۔مونږ د روزانه ژوند په کارونو اونورو عملیاتو کښې ډېر د عربۍ الفاظ سره د معنې او مفهوم کاروۆ لکه:

| عربي | پښتو |
|---|---|
| استعمال | = |
| غم | = |
| وضاحة | وضاحت |
| شرح/تشریح | = |
| ترجمه | = |
| مترجم | = |
| مفهوم | = |
| احسان | = |
| شکر | = |
| مسلم | = |
| شفا | = |

| | |
|---|---|
| مرض | = |
| سرطان | = |
| علاج | = |
| دوا | = |
| قانون | = |

**(ج) د کلتور /ثقافت په لحاظ سره :**

په عربۍ کښې یو خو اسلامي کلتور پروت دی بل عرب او پښتانه په فطرتي لحاظ سره د کلتور ډېر اړخونه کښې یو شانوالي لري هم دغه وجه ده چې د عربۍ ډېر کلتوري الفاظ د پښتو کلتوري ژبه کښې کډ شوي دي لکه:

(1) د خوراك پحقله الفاظ.

| | |
|---|---|
| طعام | = |
| مشروب | = |
| حرام | = |
| حلال | = |
| رزق | = |
| صافي/صاف | صفا |
| نعمة | نعمت |
| برکة | برکت |
| حصول | حصول حاصلول |
| بیعة | بیعه |

(2) د روزمره (ورځني) تګ راګت په وخت په ډېر سیمو کښې د عربۍ دا الفاظ استعمالیږي.

| | |
|---|---|
| اسلام علیکم | = |
| وعلیکم السلام | = |
| في امان الله | = |
| شکر | شکر شکریه |
| مشکور | = |
| احترام | = |
| عزة | عزت |

| | |
|---|---|
| كرم | = |
| ممنون | ممنون |
| لقاء/ملاقات | = |
| انتظار | = |
| انتظام | = |
| شكاية | شكايت |

(3 ) د عهدو او درجو په حقله الفاظ

| | |
|---|---|
| مالك | = |
| صاحب | صيب |
| ماتحت | = |
| خادم | = |
| حاكم | = |
| امام | = |
| مفتي | = |
| قاضي | = |
| استاذ | = |

(4) د امن او فساد د پاره مستخدم الفاظ ـ

| | |
|---|---|
| امن | = |
| فساد | = |
| ظلم | = |
| سلامة | سلامتي |
| قتل | = |
| قاتل | = |
| مقتول | = |
| قصاص | = |
| ديت | = |
| مجرم | = |
| جرم | = |

(5) د علم او تعليم په حقله الفا:

| | |
|---|---|
| علم | = |
| تعليم | = |
| درس | = |
| تدريس | = |
| کتاب | = |
| قلم | = |
| استاذ | = |
| طالب | = |
| فکر | = |
| خيال | = |
| معنٰې | = |
| مفهوم | = |

(6) د نکاح او طلاق پحقله الفاظ۔:

| | |
|---|---|
| نکاح | = |
| طلاق | = |
| خلع | = |
| خيض | = |

(7) د جامو /لباس پحقله الفاظ:

| | |
|---|---|
| لباس | = |
| احرام | = |
| برقع | = |
| حجاب | حجاب/پرده |
| کفن | = |

(8) د مذهبي الفاظ استخدام:

| | |
|---|---|
| مذهب | = |
| دين | = |
| عقيده | = |
| ايمان | = |
| مسلم | = |

| | |
|---|---|
| مومن | = |
| فاسق وفاجر | = |
| کفر | = |
| شفاعة | شفاعت |
| دعا | = |
| جنة | جنت |
| جهنم | = |
| قيامة | قيامت |
| الله | الله |
| رسول | رسول |
| صحابي/صحابه | صحابي/ صحابه |
| قبر | قبر |

(9) دشاعرئ دصنعت دالفاظو استعمال:

| | |
|---|---|
| صنعة التعجب | صنعت تعجب |
| صنعة اللف اولنشر | صنعت,لف و نشر |
| صنعة ارسال المثل | صنعت ارسال المثل |
| صنغة عاة النظير | صنعت مراعاة النظير |
| صنعة حسن التعليل | صنعت حسن تعليل |
| صنعة الايهام | صنعت ای‌هام |
| حسن المطلع | حسن مطلع |
| حسن المقطع | حسن مقطع |
| صنعة الجمع | صنعت جمع |
| صنعة تنسيق الصفات | صنعت تنسيق صفات |
| صنعة التقسيم | صنعت تقسيم |
| صنعة الرجوع | صنعت رجوع |
| صنعة المخاطبة | صنعت الخاطبه |
| ضائع الفظي | ضائع لفظي |
| صنعة التلميع | صنعت تلميع |
| صنعة السجع | صنعت سجع(13) |

دغه رنګه د عربۍ او ادب نور ډېر الفاظ د معنٰی او مفهوم په لحاظ سره پښتو ژبې او ادب کښې استعمال شوې دي۔

د تېرو موضوعاتو نه ښکاره معلومه شوه چې د عربۍ ژبې د پښتو په ادب او کلتور باندي ډېر لوی اثر دې۔د عربۍ ژبې د حروف نه تر نثر او نظم پورې په پښتو باندې آغیز غورځولې دي۔دا آغېز نه یوازې لفظي دی بلکې معنوي او مفهموي هم دي۔

**پايله** :

عربي ژبه اول خو زمونږ مذهبي ژبه ده په دا کښې د اسلام اصل منابع او مصادر موجود دي , دويم په دا کښې يو مکمل اسلامي کلتور په اصل شکل کښې موجود دې۔چې مونږ ترې نېغه په نيغه مستفيد کېدې شو۔دربمه دا چې عربي ژبه زمونږ په ژبه ,کلتور او ادب باندې په هر لحاظ سره آغېز لري۔نو که چرته يو پښتون د پښتو ژبې ادب او کلتور نه په علمي لحاظ سره خبر وی نو بيا داکس د عربۍ ژبې نه هم لږ ډېر خبر دې۔او بيا دا کس له عربۍ ژبې زده کول نسبتاً آسان دي۔

پښتو يوه غني ژبه ده دا د عربۍ الفاظ ډېر په درناوي سره قبولي نو پښتانه اديبان, شاعران, محقيقن او طالبان د عربۍ ژبې نه په ادب او تعليم کښې په هر لحاظ سره مستفيد کېدي شي۔نو که چا پښتو په علمي لحاظ سره زده کړه نو د دې مطلب دا شو چې دغه د دې نه د عربۍ نه څه نه څه واقف دې او ده له به د عربۍ زده کول نسبتاً آسان وي۔او که چا عربي زده کړه نو د دې مطلب دا دې چې دغه د دې نه د پښتو ژبې او ادب په مېدان کښې ډېر ښه او صحيح کار اخستې شي۔ لنډه دا چې که په دا دواړو ژبو کښې څوك يوه زده کړي نو د بلې ژبې او ادب په افهام او تفهيم او استخدام کښې به ورته ډېره آساني وي ۔

## حوالې


(1) جواد علي، ډاکټر،المنفصل في تاريخ العرب قبل الاسلام , دارالعلم للملايمن بېروت- لبنان, 1980 ,ص: 526 564،

(2) يوسفزی , سعد الله خان (مولانا) او شرکاء: المنجد (عربي اردو) , مقدمه د عبدالصمد صارم, دار الاشاعت , کراچی , 1975 :ص , 10

(3) طقوش, محمد اسماعيل : تاريخ الادب, قبل السلام, دارالنفائس, 2009 , ص 108۔

(4) الزيات, احمد حسن:, تاريخ الادب العربي, دارالمعرفه بېروت - لبنان, 2000 ,ص : 15 , 17۔

(5) حنا الفاحوري:تاريخ الادب العربي, الطبقة السادسه, منشوران المکتبة البولسية , ص : 22۔

(6) حنيف خليل (ډاکټر):مختصر تاريخ زبان و ادب (پښتو) , مقتدره قومي زبان, 2009 , ص: 17۔

(7) رښتين , صديق الله : پښتو ګرامر , يونيورسټي بك ايجنسي خېبر بازار, پېښور, 1994 , ص: 10

(8) سورة الرعد آية : 27۔

(9) سورة يوسف, آية : 2

(10) سورة فصلت آية : 2

(11) صفدر قريشی:وحدت اللسان, فيض الاسلام پرنټرز پريس راولپنډی,۱۹۹۹,ص:۳۱-۶۱۔

(12) خيال بخاری, سيد عظيم شاه:اتاليق پشتو,چاپ ځای پرنټرزخبر, پېښور, ۱۹۸٤ ,ص:15

(13) خليل,محمد جاوېد:قدردان د شاعرانو رحمن بابا, پښتو اکېډمی , پېښور يونيورسټي , پېښور,۱۹۹۸,ص:۲۳۲-۲٤۳۔